امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات



# هفته نامه مدیریت حوادث

۲۶ میزان الی ۱ عقرب ۱۴۰۴

شماره یکصدو بیست و هفتم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د افغانستان لپاره د برېټانیا له ځانګړی استازی سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د افغانستان لپاره د برېټانیا له ځانګړی استازی ښاغلی ریچارډ لینډزی او د هغه له مل پلاوی سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۱ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او دواړو لوریو د ګډې لېوالتیا لرونکو موضوعاتو تر څنګ، په هېواد کې د پېښو د مدیریت د ظرفیت لوړولو په اړه هر اړخیز بحث وکړ.

محترم ترابی صاحب برېټانیایی پلاوی ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ زیاته کړه، چې زموږ انسانی ډیپلوماسی دا ایجابوی چې له ټولو هېوادونو او بنسټونو سره ښې اړیکې ولرو، څو وکولای شو د خپلو خلکو لپاره پراخې مرستې...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان اېډ مؤسیسې ترمنځ د نږدې یو میلیون ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاری دفتر کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۷ نېټه د افغان اېډ مؤسیسې د پروګرامونو مسؤل عبدالرحمن طارق او د پروژوی ...

ادامه در صفحه ۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د کابل ولایت په ده‌سبز ولسوالۍ کې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله د ۱۲۶۹ زیانمنو شویو کورنیو لپاره د خوراکی او غیر خوراکی توکو د وېش بهیر پیل کړ



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د کابل ولایت ده‌سبز ولسوالۍ ته ولاړ او د وروستیو بارانونو، ږلۍ او سېلابونو له امله د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۹ نېټه د ۱۲۶۹ زیانمنو ...

ادامه در صفحه ۴

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان ځوانانو د خدماتی مؤسسې ترمنځ ټولټال د (۵۰۸،۹۴۴) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو دوه تفاهم نامې لاسلیک شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د افغان ځوانانو د خدماتی مؤسسې له اجرائیوی رئیس، محترم انجنیر عبدالحبیب تحریک سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۹ نېټه...

ادامه در صفحه۴

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د افغانستان لپاره د برېټانیا له ځانګړی استازی سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د افغانستان لپاره د برېټانیا له ځانګړی استازی ښاغلی ریچارډ لینډزی او د هغه له مل پلاوی سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۱ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او دواړو لوریو د ګډې لېوالتیا لرونکو موضوعاتو تر څنګ، په هېواد کې د پېښو د مدیریت د ظرفیت لوړولو په اړه هر اړخیز بحث وکړ.

محترم ترابی صاحب برېټانیایی پلاوی ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ زیاته کړه، چې زموږ انسانی ډیپلوماسی دا ایجابوی چې له ټولو هېوادونو او بنسټونو سره ښې اړیکې ولرو، څو وکولای شو د خپلو خلکو لپاره پراخې مرستې تر لاسه کړو او د همدې لپاره موږ د هېواد په کچه د هغو سازمانونو لپاره اسانتیاوې برابرې کړی، چې د بشردوستانه چوکاټ له لارې د هېوادونو مرستې تر مستحقو خلکو رسوی.

د ادارې لوی رئیس همدارنګه د لیدنې پر مهال له یاد پلاوی څخه غوښتنه وکړه، چې د زړه سوری ناروغانو د درملنې د پروګرامونو ملاتړ، د لټون او ژغورنې د ټیمونو جوړولو او د پرمختللو وسایلو په مرسته د هغوی تجهیز، د رضاکارو ټیمونو پیاوړتیا، او د کوچنیو وقایوی پروژو پلی کولو په برخه کې له ادارې سره مرسته وکړی. هغه ټینګار وکړ چې که د مجهزو سیمه ییزو ټیمونو لپاره اړین امکانات ولری، د هغوی اغېزمنتیا به څو برابره لوړ شی.

په همدې حال کې، د افغانستان لپاره د برېټانیا ځانګړی استازی ښاغلی ریچارډ لینډزی د لیدنې له فرصت څخه خوښی وښوده او ویې ویل چې په بشردوستانه چارو کې د اغېزمنو اړیکو رامنځته کول ډېر مهم دی. او موږ تل د رسنیو له لارې ستاسو فعالیتونه تعقیبوو او د دې ترڅنګ چې ستاسو د فعالیتونو ستاینه کوو، دا زموږ لپاره په ډاګه شوې چې تاسو څه ډول د خپلو همکارانو او کاری شریکانو ستونزې حل کوئ.

نوموړی د کونړ د زلزله‌ځپلو لپاره د مرستو وړاندې کولو د بهیر د یادولو ترڅنګ څرګنده کړه، چې د دوی له لوری د لا زیاتو بشری مرستو د ورکړې امکان شته، او ژمنه یې وکړه چې د لټون او ژغورنې د ټیمونو د جوړولو او تجهیز، او همدارنګه د رضا کارانو په برخه کې به د خپلو بشری بنسټونو له لارې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سره ګډه همکاری وکړی.

په پای کې، دواړو لوریو د علاقې وړ موضوعاتو په اړه هر اړخیز بحث وکړ او په بېلا بېلو برخو کې یې د نږدې اړیکو دوام د ګډو همکاریو د پیاوړتیا لپاره ګټور وباله.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان ایډ مؤسیسې ترمنځ د نږدې یو میلیون ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک کړه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابی په خپل کاری دفتر کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۷ نېټه د افغان ایډ مؤسیسې د پروګرامونو مسؤل عبدالرحمن طارق او د پروژوی د مدیر، محمد حلیم سره وکتل.

ښاغلی ترابی صاحب د یادې مؤسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست وویل او څرګنده یې کړه چی په هېواد کی د ټولو مؤسیسو لپاره د بشری فعالیتونو زمینه برابره ده او  باید په اخلاص او شفافیت سره خپل پروژو ته دوام ورکړی.

همدا راز ترابی صاحب د یادې مؤسیسې د ټول کاری ټیم څخه مننه وکړه چی د کنړ زلزله ځپلو هیوادوالو ته مرستی رسوی او باید یادی مرستی دوام ولری.

وروسته، د افغان ایډ مؤسیسې د پروګرام مسؤل عبدالرحمن طارق له مؤسیسو سره د دې ادارې د پوره همکارۍ له امله خوښی څرګنده کړه او زیاته یې کړه چې دا مؤسیسه د افغانستان خلکو ته د ۴۳ کالو راهیسی په بېلابېلو برخو کې د مرستو رسولو لپاره کار کوی او هڅه کوی چې دا مرستې په خپل وخت اړمنو خلکو ته ورسوی.

د یادونې وړ ده، چې په پای کې د دواړو لوریو تر منځ د نه سوه نه نوی زره او دوه سوه درې نوی (۹۹۹,۲۹۳) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه، چې له مخې به یې یاده مؤسسه د کنړ ولایت په ځوکۍ او نورګل ولسوالۍ کې ۱۸۳۰ زیانمنو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشی، چې له یاد شمېر کورنیو څخه ۱۲۷۵ مستحقو کورنیو هرې یوې ته د غیرخوراکی توکو برابرولو لپاره ۲۸۲ ډالره نغدې پیسې ووېشل شی. همدا راز، ۴۲۴ زیانمنو کورنیو هرې یوې ته به د غیرخوراکی توکو برابرولو لپاره ۳۱۲ ډالره وېشل کېږی او ۹۷ کورنیو هرې یوې ته به ۱۵۱ ډالره نغدې پیسې او له خطر سره مخ ۳۴ کورنیو هری یوې ته به ۱۸۱ ډالره نغدې پیسې ورکړل شی. همدارنګه، ۱,۰۳۴ کورنیو هرې یوې ته به د خاریو د خوراک لپاره ۹۶ ډالره نغدې پیسې او ۱,۸۳۰ کورنیو هرې یوې ته به د حفظ الصحې او نورو اړینو توکو برابرولو لپاره ۲۴ ډالره نغدې پیسې او ۱,۸۳۰ کورنیو هرې یوې ته به عادی ژوند ته د راګرځېدو په پار د جای نماز، د ماشوماتو د لوبو وسایلو برابرولو او نورو توکو لپاره د ۲۱ ډالرو په ارزښت نغدې پیسې ووېشل سی.

## له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې لوی رئیس د کابل ولایت په ده‌سبز ولسوالۍ کې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله د ۱۲۶۹ زیانمنو شویو کورنیو لپاره د خوراکي او غیر خوراکي توکو د وېش بهیر پیل کړ



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د کابل ولایت ده‌سبز ولسوالۍ ته ولاړ او د وروستیو بارانونو، ږلۍ او سېلابونو له امله د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۹ نېټه د ۱۲۶۹ زیانمنو شویو کورنیو لپاره یې د خوراکي او غیرخوراکي توکو د وېش بهیر پیل کړ.
محترم ترابي صاحب له زیانمنو خلکو سره د خواخوږۍ ترڅنګ وویل، چې زموږ هڅه دا ده چې د وقایوي پروژو د پلي کولو له لارې د هېواد په کچه د پېښو له امله د زیانمنتیا کچه راکمه کړو. د همدې موخې لپاره، دا مهال د ده‌سبز ولسوالۍ په ګډون، د کابل په ټولو ولسوالیو او همدارنګه د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې وقایوي پروژې یا خو پلي شوې دي او یا د پلي کېدو په حال کې دي. نوموړي زیاته کړه چې دا لړۍ به د اسلامي امارت او همکارو مؤسسو له امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره دوام ومومي.
د ادارې لوی رئیس همدارنګه وویل، چې د دې ډول مرستو لړۍ به په راتلونکې کې هم دوام ولري، او که چیرې خلک پېښو ته د رسېدنې په برخه کې له کومې ستونزې سره مخ شي، کولای شي د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ته د مرستې لپاره مراجعه وکړي.
د یادونې وړ ده، چې په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې، یوه تخته کمپله، څلور کلچې صابون او ۳۰ پاکټه د اوبو د تصفیې ټابلیټونه ووېشل شول.
په همدې مهال، د دغو مرستو ترلاسه کوونکو د محترم الحاج ملا نورالدین ترابي له شتون او خواخوږۍ څخه د زړه له کومې مننه وکړه، د دغو مرستو له ورلاندې کولو څخه یې خوښي وښووده او د اسلامي امارت مسؤلینو ته یې د خیر دعا وکړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان ځوانانو د خدماتي مؤسسې ترمنځ ټولټال د (۵۰۸،۹۴۴) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو دوه تفاهم نامې لاسلیک شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس, محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د افغان ځوانانو د خدماتي مؤسسې له اجرائیوي رئیس، محترم انجنیر عبدالحبیب تحریک سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۹ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو دوه تفاهم‌نامې یې ورسره لاسلیک کړې.
محترم ترابي صاحب د تفاهم‌نامو ګټو ته په کتو وویل، چې موږ ډېره لېوالتیا لرو چې مرستې له لنډمهاله او سطحي بڼې څخه بنسټیزو او اوږدمهاله پروګرامونو ته واوړي، څو د خلکو په ګډون د زیربناوو د پیاوړتیا له لارې ولس ته د دوامداره ملاتړ زمینه برابره شي. نوموړي زیاته کړه، چې اداره چمتو ده څو له هغو مؤسسو او بنسټونو سره چې غواړي له خلکو سره په هره برخه کې مرسته وکړي، بې له ځنډه همکاري وکړي او لازمې زمینې ورته برابرې کړي.
په همدې حال کې، د موسسې اجرائیوي رئیس, محترم انجنیر عبدالحبیب تحریک، د یادې ادارې له دوامداره همکارۍ مننه وکړه او ژمنه یې وکړه چې د تفاهم‌نامو مفاد به په شفاف، کره او چټک ډول پلي کړي.

ادامه صفه ۵

په پای کې، دواړو لوریو ټولټال د پنځه سوه اته زره او نه سوه څلور څلوېښت (۵۰۸,۹۴۴) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو دوه تفاهم نامې لاسلیک کړې، د لومړی تفاهم نامې له مخې چې ارزښت یې درې سوه دوه ویشت زره او نه سوه درې (۳۲۲,۹۰۳) ډالر دی، له مخې به یې د افغان ځوانانو خدماتي مؤسسه د غزني ولایت په غزنی ښار، او مقر او اندړ ولسوالیو، د لوګر ولایت په پل علم ښار او برکی برک او محمد آغه ولسوالیو، د پکتیا ولایت په ګردیز ښار او څاځی، جاني‌خېل، زرمت او سیدکرم ولسوالیو ، او همدارنګه د خوست ولایت په خوست ښار او صبری، قلندر او موسی‌خېل ولسوالیو کې د سیمې د خلکو لپاره روزنیز ورکشاپ ترسره کړی، تر څو هغوی د سیمه ییزو پرمختیایی پلانونو د طرحه کولو وړتیا ترلاسه کړی، کوم چې د UNDP سازمان غواړی په راتلونکو کلونو کې له خطر سره په مخ سیمو کې پلی کړی.

سربېره پر دې، په خوست، لوګر او پکتیا ولایتونو کې ۱۵ ورزشي میدانونه او درې ورزشي سیالۍ (تورنمنټونه) جوړېږی، او د خوست او پکتیا په ښارونو کې به د ښار د صفایۍ لپاره ۴۲۱ کثافت دانۍ ولګول شي.

د دویمې تفاهم‌نامې له مخې چې ارزښت یې یو سل او شپږ اتیا زره او یو څلوېښت (۱۸۶،۰۴۱) ډالر دی، یاده موسسه به په غزني ښار، د غزنی ولایت په جاغوری ولسوالۍ، د لوګر ولایت په پل علم ښار او د خوست ولایت په مرکز کې د ۱۰۵ هغو کسانو لپاره چې د کار نړیوال سازمان له مسلکی روزنیزو ورکشاپونو فارغان دی، د اقتصادی پیاوړتیا او د کار د وسایلو د برابرولو په موخه، هر یوه ته ۷۸۰ ډالر ورکړی. همدارنګه، د ۶۰ تداوی شویو روږدو کسانو لپاره د کوچنیو کسبونو د رامنځته کولو، د ورکشاپونو ترسره کولو او د کار وسایل برابرولو لپاره هر یوه ته به ۱,۳۴۲ ډالره مرسته ورکړل شي.

## د پېښو چارو د همغږۍ معین د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د دې ولایت له والي سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، د یو تخنیکی، فنی او مسلکی پلاوی په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمی سفر په دوام، د لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکندی، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزنی، زابل او کندهار ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کاری بهیر له څارنې وروسته، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۶ نېټه ارزګان ولایت ته ورسېد.

په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د ارزګان ولایت له والی، محترم الحاج مولوی عنایت الله شجاع سره د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم قاری حضرت الله امدادالله په شتون کې وکتل.

دغه ناسته د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

په دې ناسته کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د نورو ولایتونو د سفرونو یادونه وکړه او د سفر موخه یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د عمومی وضعیت څېړل، د اسلامی امارت د عالی مقام مشرتابه د فرمانونو، احکامو او مکتوبونو د پلی کېدو څارنه، د مالی او اداری چارو ارزونه، د هوکړه لیکونو د پلی کېدو څارنه، د وقایوی پروژو ارزونه، د بشردوستانه مرستو د وېش، د ماین پاکۍ او د نشراتي چارو تعقیبول او د ستونزو او وړاندیزونو اورېدنه یاده کړه.

هغه ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره ژمنه ده، چې د خپلو قانونی صلاحیتونو او د دندو په چوکاټ کې به د وقایوی پروژو د پلی کېدو، د زیانمنو بېړنیو اړتیاوو د پوره کولو او د طبیعی پېښو او خطرونو د مدیریت د ښه والی په برخه کې هر اړخیزه همکاری وکړی.

وروسته د ارزګان محترم والی صاحب، د ښه راغلاست ترڅنګ د زیانمنو په برخه کې د یادې ادارې له هڅو او رسېدنې څخه د قدردانۍ ترڅنګ د دې ولایت زیانمنتیا ته په اشارې سره وویل چې د ارزګان خلک د طبیعی پېښو له امله په لوړه کچه زیانمن دی او د بشردوستانه مرستو او وقایوی پروژو ته اړتیا لری.

په پای کې محترم والی صاحب له دې بهیر څخه د خوښی په څرګندولو سره زیاته کړه، چې د دویمو واحدونو له چارو څخه څارنه او څېړنه د حکومتولۍ یو مهم اصل دی او د هر ډول همکارۍ ژمنه یې وکړه.

ورپسې، یاد پلاوی د ارزګان ولایت له پېښوسره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د یاد ریاست کاری بهیر یې له نږدې وځاره. په دې لیدنه کې، د پېښو چارو د همغږۍ معین له کارکوونکو سره خبرې وکړې د هغوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل او د اسنادونو او فعالیتونو تر ارزونې وروسته یې هغوی ګرندی، پر وخت او اغېزمنو خدمتونو ته وهڅول.

د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوی په دې ریاست کې خپل څارنیز او لارښوونکی بهیر پیل کړ.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۴۷۵ کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې



د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د دې ولایت په سروبي ولسوالۍ کې، د وروستیو سېلابونو له امله ٤٧٥ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۵ نېټه د خوراکی او غیر خوراکی توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱ بوری ۵۰ کیلویي غنم، ۱ بوری ۲۵ کیلویي وریجې، یوه جوړه څپلۍ او ۳۰ پاکټه د اوبو پاکولو ټابلیټ ووېشل شوې.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو د تر لاسه کولو په پار خوښي څرګنده کړه او د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست له مسؤلینو څخه یې زیانمنو شویو کورنیو ته د ژر رسېدنې په موخه مننه وکړه.

## کشف و خنثی‌سازی چندین مورد مواد منفجر ناشده در کندز



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندز در همکاری با مؤسسه ماین پاکی «اومر»، مقدار قابل توجهی مواد انفجاری را در این ولایت بتاریخ ۲۵ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کشف و به‌گونه‌ی مصوون خنثی کرد.

در نتیجه این عملیات، ۲ حلقه ماین ضد تانک، ۱۵ حلقه ماین ضد پرسونل، ۶ عدد بم دستی، ۳۸ فیر مرمی راکت، ۱۴ فیر مرمی هاوان، ۲۰ عدد ماین بشکه‌ای، ۴۱ گرام مواد انفجاری، ۲۲ عدد فشنگ، ۸ عدد پلیت فشاری، ۷۰ عدد باتری نوع DM، یک عدد واسکت، ۱۷ فیر مرمی توپ، ۳۰۰ فیر مرمی پیکا و ۲۲ فیر بم افگان ۴۰ میلی‌متری کشف و از بین برده شد.

قابل یادآوری است که با انجام این عملیات، باشندگان محل از خطرات احتمالی ناشی از مواد انفجاری مصوون گردیدند.

## د پنجشیر ولایت په مرکز کې د یو استنادی دیوال د جوړولو چارې رسما پیل شوې



د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله د حکم له مخې، د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست، د دې ولایت د مرکز په خاص بازارک سیمه کې د یو استنادی دیوال د جوړولو چارې، چې تمویلوونکې یې له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی اداره ده، د ۳۰ مترو په اوږدوالی سره د اوه سوه او دوه پنځوس زره او دوه سوه او پنځه اتیا (۷۵۲،۲۸۵) افغانیو په لګښت د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۵ نېټه پیل کړې.

د یادې پروژې د پرانستنې مراسم، د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د محترم رئیس، د کلي د سپین ږیرو او سیمه ییزو اوسېدونکو په شتون کې ترسره شول.

د یادونې وړ ده، چې د یاد استنادی دیوال په جوړولو سره به د سیمې د وګړو کرنیزې ځمکې او نور تأسیسات خوندی او د طبیعي پېښو له احتمالي خطرونو څخه به وژغورل شي.

## د کابل ولایت په موسهی ولسوالۍ کې چاودېدونکی توکی کشف او خنثی کړل شول



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د لوی رئیس؛ محترم الحاج ملانورالدین ترابی د لارښوونې له مخې، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC او DAFA ماین پاکۍ مؤسسو د بیړنی ځواب وېینو ټیمونو د همغږۍ له مخې، د دې ولایت د موسهی ولسوالۍ اړوند د اوبو د یو کانال د مسیر په اوږدو کې بېلابېل چاودېدونکی توکی د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۵ نېټه کشف او په خوندی توګه له منځه یوړل.
د یادو عملیاتو په پایله کې، یو عدد فیوز او یو فیر د راکټ RPG مرمی، چې له تېرو جګړو څخه پاتې شوې وه او د خلکو ژوند یې له ګواښ سره مخ کړی وو له منځه یوړل شول.
د یادونې وړ ده، چې لړ وړاندې په دې سیمه کې چاودېدونکو توکو د دوو ځوانانو ژوند اخیستی وو، چې په یاده سیمه کې به له دې عملیاتو وروسته دا احتمالی مرګونې پېښې له منځه لاړې شی.

## د هلمندولایت په لښکرګاه ښار کې چاودېدونکی توکی کشف او خنثی کړل شول




د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ریاست د آریانا ماین پاکۍ موسسې د چټک غبرګون ۱۱ نمبرټیم سره د همغږۍ له مخې، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۵ نېټه د دې ولایت د لښکرګاه ښار د اتمې حوزی اړوند، حاجی ګران څلور لارې ته نیږدې د کباړی له دوکان څخه ۱۳۵ بېلابېل ډوله ناچاوده توکی او یولس جوړسمتی ALM ماین په خوندی ډول ولېږدول اوله منځه یې یووړل.
د دې عملیاتو په ترسره کولو سره د سیمې د خلکو مالونه او ځانونه د ماینونو او ناچاوده توکو له احتمالی خطرونو څخه وژغورل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کاپیسا برای ۲۲۹ خانواده کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد



براساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه GNI، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کاپیسا با حمایت این مؤسسه، پس از سروی برای ۲۲۹ خانواده متضرر از بارندگی‌های اخیر در ولسوالی‌های تگاب و نجراب آن ولایت، بتاریخ ۲۵ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.
در جریان این روند، برای هر خانواده در حضور مسئولین، یک بوجی ۵۰ کیلویی گندم و یک بسته لباس اطفال توزیع شد.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۸ زلزله ځپلو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د Cordaid مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالی مرسته او CDRO مؤسسې په تخنیکی، د دې ولایت د دره نور ولسوالۍ په کندک، قلعه شاهی، کشموند قلعه او صفر قلعه کې ۸۸ زلزله ځپلو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۵ نېټه نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۹۵۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو ته ۸۳۶ زره افغانۍ ځانګړې شوې وې.
د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او CDRO مؤسسې څخه قدردانی وکړ او د ورکړل شویو نورو مرستو غوښتنه یې وکړه.

## نظارت از فعالیت‌های مؤسسه آقاخان برای اسکان (AKAH) در ولایت بدخشان



به‌اساس هدایت مقام محترم اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث هیأتی از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان به منظور نظارت از فعالیت‌های مؤسسه آقاخان برای اسکان (AKAH) در بخش کاهش خطرات حوادث طبیعی، بتاریخ ۲۶ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق به ولسوالی‌های واخان، اشکاشم و شغنان سفر نمود.
در جریان این سفر، هیأت موظف از پروژه‌های مختلف این مؤسسه شامل ساخت دیوارهای محافظوی، خانه‌های مقاوم، گدام های مواد غیرغذایی و کمیته‌های مدیریت حوادث بازدید به عمل آورد.
در ولسوالی واخان، پروژۀ دیوار محافظوی قریه کرت به طول ۱۲۴ متر و ارتفاع ۲.۶۵ متر و بودجه یک میلیون و چهار صد و هشتاد و شش‌هزار و هفتصد و شصت(۱،۴۸۶،۷۶۰) افغانی، ۹ باب خانۀ مقاوم در برابر زلزله با بودجه یک‌هزار و صد(۱،۱۰۰) دالر سهم دفتر AKAH و ۱۳ باب گدام مواد غیرغذایی تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شده است. همچنان ۵۵ کمیته مدیریت حوادث با مجموع ۱۳۷۵ عضو آموزش‌دیده در این ولسوالی ایجاد گردیده است.
هم‌چنان در ولسوالی اشکاشم، ۵ باب گدام مواد غیرغذایی و ۴۶ کمیته مدیریت حوادث با ۱۱۵۰ عضو آموزش‌دیده و مجهز فعالیت دارند.
در ولسوالی شغنان نیز ۱۰ باب گدام مواد غیرغذایی، ۷ کانتینر ذخیره مرکزی، ۵۶ کمیته مدیریت حوادث و پروژۀ کاهش خطر ریزش سنگ در قریه ده‌مرغان با بودجه(۱۹،۲۲۱.۹) دالر در حال تطبیق است.
هیأت نظارتی، فعالیت‌های مؤسسه آقاخان برای اسکان را مطابق پلان و معیارهای انجینری ارزیابی نموده و از نقش این مؤسسه در کاهش خطرات حوادث طبیعی و افزایش آمادگی جوامع محلی قدردانی کرد.

## د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۷۰ مستحقو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ADDO مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړې لیک له مخې، د نورستان ولاست له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په مندول ولسوالۍ کې ۶۷۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۶ نېټه د خوراکی توکو مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، اوړه، وریجې، غوړی، لوبیا او دال ووېشل شو او د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو له اسلامی امارت او یادې مؤسسې څخه مننه او د نورو مرستو غوښتنه وکړه.

## د زابل ولایت په نوبهار ولسوالۍ کې د ګبیونی دیوال د پروژې د جوړلو چارې رسما پیل شوې




د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم له مخې، د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د نوبهار ولسوالۍ په قادرخېلو کلی کې د یو ګبیونی دیوال د جوړولو چارې د ۸۸ مترو په اوږدوالی او ۳ مترو په لوړوالی سره ټولټال د یومیلیون او څلوېښت زره او څلور سوه څلوېښت (۱،۰۴۰،۴۴۰) افغانیو په ارزښت، چې تمویل کوونکې یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره ده د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۶ نېټه پیل کړې.
د یادې پروژې د پرانستنې مراسمو کې، د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوی عبد الله عابدی، مخورو سپین ږیرو او سیمه ییزو اوسېدونکو شتون درلود.
د یادونې وړ ده، چې د دې ګبیونی دیوال د کار له بشپړېدو وروسته به د سیمه ییزو وګړو زرګونه جریبه کرنیزې ځمکې، کورونه او عامه بنسټونه د سېلابونو له خطرونو څخه خوندی پاتې شی.

## د لوګر ولایت په مرکز کې چاودېدونکی توکی کشف او خنثی کړل شول




د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د هلوترسټ ماین پاکۍ نړیوالې مؤسسې د همغږۍ له مخې، د دې ولایت د مرکز پل علم په آبچګان دښته کې یو شمېر چاودېدونکی توکی د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۶ نېټه کشف او په خوندی توګه له منځه یوړل شول.
د دې عملیات په پایله کې، له تېرو جګړو څخه پاتې شوی ۱۵۰ ګرامه چاودېدونکی توکی، ۲ کاره د اور بازۍ پټاقې او ۱.۵ متره فلیته ثانیه سوز د اړوند مسؤلینو تر څارنې لاندې خنثی کړل شول.
د یادونې وړ ده، چې د دې چاودېدونکو توکو په له منځه تللو سره د سیمه ییزو اوسېدونکو ځانونه او مالونه له احتمالی خطرونو څخه وژغورل شول.

## د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۳۸ کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د(JCSSO) مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکې یې OCHA-AHF ده، د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت په دره ولسوالۍ کې ۷۳۸ مستحقو کورنیو ته له سروې ورسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۱ نېټه د نغدی پیسو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲،۷۸۵ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره دوه میلیونه او پنځه پنځوس زره او درې سوه او دېرش (۲،۰۵۵،۳۳۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې په راتلونکی کې به هم د پنجشیر ولایت په نورو ولسوالیو کې مستحقو کورنیو ته د مرستو دا لړۍ دوام ولرې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۴۲۵ خانواده زلزله‌زده کمک‌های غذایی توزیع کرد



براساس تفاهم‌نامهٔ امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه VDO که پروژه آن توسط برنامه جهانی غذا (WFP) تمویل می‌گردد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با همکاری این مؤسسه، بتاریخ ۲۶ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۴۲۵ خانواده متأثر از زلزله در مربوطات ولسوالی دره‌نور کمک‌های غذایی توزیع نمود.

در جریان این روند، پس از انجام سروی و در حضور مسئولین، برای هر خانواده ۱۰۰ کیلو آرد، ۹,۱ کیلو روغن، ۱۲,۵ کیلو دال و ۱ کیلو نمک توزیع گردید.

قابل یادآوری است که برای این تعداد خانواده در ماه آینده نیز کمک‌های غذایی توزیع خواهد شد.

## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د سهار ګفتمان مرکز د ټولنې په ملاتړ، د یاد ولایت د شولګره ولسوالۍ په تاجک ایلتن او جر محمد کریم کلیو کې د تېرو سېلابونو له امله ۵۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۶ نېټه خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیتره غوړی، ۴ کیلو لوبیا، ۳.۵ کیلو بوره، نیم کیلو وچ چای، ۱.۵ کیلو مالګه او ۴ لیتره د لوښو منځلو مایع ووېشل شوه.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غزنی برای ۸۵ خانوادۀ متضرر کمک‌های غذایی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غزنی، پس از سروی توسط تیم مختلط در مربوطات مرکز ولایت، بتاریخ ۲۶ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۸۵ خانوادۀ متضرر ناشی از حوادث طبیعی کمک های غذایی توزیع نمود.

در این روند با حضور مسئولان، برای هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۵ کیلو شکر، نیم کیلو چای سیاه و دو بسته ظروف یک‌بار مصرف توزیع گردید.

مولوی حمدالله بشیر، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غزنی، ضمن ابراز همدردی با خانواده‌های آسیب‌دیده، وعده همکاری‌های بیشتر از طریق مؤسسات همکار را در آینده نزدیک سپرد.

خانواده‌های مستفیدشده نیز پس از دریافت این کمک‌ها، از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غزنی ابراز سپاس و قدردانی نمودند.

# د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۶ کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې

د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په مرکز مزار شریف ښار کې د معلولینو او معیوبینو ۷۶ کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۶ نېټه خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې یاد شمېر کورنیو ته ټولټال ۹۱ بورۍ ۵۰ کیلویی غنم، ۶۰ کارټن مکی آش، ۹۰ کارټن بسکېټ او ۴۴۵ کیلو بوره ووېشل شوه.




# د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۵۰ تنه کاریګرو ته د کار په بدل کې نغدې پیسې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د اکشن اېډ موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۷ نېټه د دې ولایت په سوزمه قلعه ولسوالۍ کې ۲۵۰ تنه کاریګرو ته د کار په بدل کې نغدې پیسې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هر کاریګر ته د ۶،۶۴۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ۱،۶۶۰،۰۰۰ افغانۍ نغدې پیسې د هغوی لپاره ځانګړې شوې وې.



## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له هغو امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره، چې زلزله ځپلو ته د رسېدنې له کمېسیون څخه یې ترلاسه کړې وې، د ولایت مقام د حکم پر بنسټ او د کمېټې د غړو په شتون کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۷ نېټه ۱۲ کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، ۵ کورنیو هرې یوې ته ۵۰ کیلو اوړه، یوه بسته خوراکي توکي، د یونیسف له مرستو څخه یوه بسته جامې، ۶ کیلو خرما، ۴ کارټن بسکېټ او یو ترپال ووېشل شو. همدا راز، ۷ نورو کورنیو هرې یوې ته سربېره پر دغو توکو، د یونیسف له مرستو څخه د پخلنځي د توکو یوه بسته هم ورکړل شوه.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د خوښۍ په څرګندولو سره د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه قدرداني وکړه.



## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۳۰ زلزله ځپلو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له خپلو شته امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره، د د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۷ نېټه یاد ولایت په مرکز او یو شمېر ولسوالیو کې د وروستۍ زلزلې له امله ۱۰۳۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، د ولایت مقام محترم مرستیال، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوی محمد مبین مفتون عمر او د سرې میاشتې محترم استازی په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، یو کارټن خرما او یوه بسته خوراکي توکي ووېشل شول.

## کشف وخنثی سازی یک فیر مرمی منفجرناشده در ولایت لغمان



بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه بین‌المللی ماین‌پاکی هیلو تراست، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان در هماهنگی با تیم تخنیکی این مؤسسه، یک مرمی منفجرناشده را در مرکز این ولایت، در قریه پنج‌پای شهر مهترلام، بتاریخ ۲۷ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کشف و به‌گونه‌ی مصئون تخریب نمود.

این مرمی نوع BM1 راکت بوده که از دوره‌های جنگ‌های گذشته باقی مانده و قابل استفاده نبود، اما زندگی باشندگان محل را با خطر جدی مواجه ساخته بود. تیم مسلکی مؤسسه هیلو تراست عملیات تخریب آن را با رعایت کامل اصول ایمنی و احتیاط موفقانه انجام داد و آن را از بین برد.

## د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۳ زیانمنو کورنیو ته د شلتړ(کور) جوړولو او ترمیم لپاره نغدې مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداری او د DAART موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۷ نېټه ۶۳ کورنیو ته د شلتړ(کور) جوړولو او ترمیم لپاره د دویم قسط نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې ۲۴ کورنیو هرې یوې ته د درې خونو کور جوړولو لپاره ۷۰,۳۸۰ افغانۍ، ۲۴ کورنیو هرې یوې ته د دوو خونو کور جوړولو لپاره ۵۳,۲۹۰ افغانۍ، ۴ کورنیو هرې یوې ته د اساسی ترمیم لپاره ۱۴,۶۴۰ افغانۍ او ۱۱ کورنیو هرې یوې ته د جزئی ترمیم لپاره ۸,۷۸۰ افغانۍ ووېشل شوې.

دا مرستې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د اقتصاد ریاست، د ولسوالۍ صلاحیت لرونکی استازی او د استخباراتو استازی په شتون کې په فردی ډول هرې مستحقې کورنۍ ته وسپارل شوې.

## د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱,۲۶۷ بېوزله کورنیو ته خوراکی او نغدې مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداری او د (ASIO) مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت په حضرت سلطان ولسوالۍ کې ۱,۲۶۷ بېوزله کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۷ نېټه خوراکی او نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲,۹۰۰ افغانۍ او ټولټال درې میلیونه او شپږ سوه څلور اویا زره او درې سوه (۳,۶۷۴,۳۰۰) افغانۍ ووېشل شوې. همدا راز، یاد شمېر کورنیو ته ۳ کیلو سوپر سریال او ۱.۵ کیلو پلمپی هم ورکړل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث لوگر برای ۲۸ خانواده متضرر کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر پس از انجام سروی، بتاریخ ۲۷ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۲۸ خانواده متضرر از حوادث طبیعی و غیرطبیعی در مرکز و ولسوالی‌های آن ولایت کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.

در این روند که با حضور مسئولین محلی برگزار شد، برای هر خانواده ۱۰۰ کیلوگرام گندم، دو تخته کمپل دولایه وطنی، یک بسته البسه و یک بسته صحی توزیع گردید.

## په فراه ولایت کې ناچاوده توکی کشف او خنثی کړل شول



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د DRC موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې د ماین پاکۍ برخې په ملاتړ ۲ عدد بېلا بېل ډوله ناچاوده توکی د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۸ نېټه کشف او په خوندی ډول خنثی کړل.

په دې توکو کې یوه د توپ مرمۍ او یوه د هاوان مرمۍ شامله وه، د بالابلوک ولسوالۍ په ګنج آباد کلی او د فراه ولایت د مرکز په کافر قلعه کې د امنیه قوماندانۍ د مسؤلینو په همکارۍ کشف او د تخنیکی ټیم تر کره څارنې لاندې خنثی کړل شول.

د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ټینګار وکړ، چې دا هڅې د ښاریانو د ژوند ساتنې او د احتمالی پېښو د مخنیوی په برخه کې مهم ګام دی.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان برای ۲۰۷ خانواده نیازمند مواد غذایی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه RRDPO امضا که تمویل کننده پروژه آن برنامه جهانی غذا (WFP) میباشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان با حمایت این مؤسسه، برای ۲۰۷ خانواده آسیب‌دیده در ولسوالی‌های دولت شاه، علیشنگ، علینگار و مرکز مهترلام پس از انجام سروی، بتاریخ ۲۸ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی توزیع نمود.

در این روند، در حضور مسئولان، برای هر خانواده ۱۰۰ کیلو آرد، ۹.۱ کیلو روغن، ۱۲.۵ کیلو دال، ۱ کیلو نمک، سوپر سریل و حلوا مغزی توزیع گردید.

شایان ذکر است که خانواده‌های دریافت‌کننده کمک‌ها از این اقدام ابراز خرسندی نموده و از مسئولان مربوطه قدردانی کردند.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۵۰ زلزله ځپلو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د DACAAR موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د دې ولایت د نورګل ولسوالۍ په مزار دره کې د وروستۍ زلزلې له امله ۲۵۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۹ نېټه غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، یو هایجن کېټ ووېشل شو.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د باران او سېلاب له امله ۳۰ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې




د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) او د PUMI موسسې په مالي او تخنیکي همکارۍ، د یاد ولایت په کوزکونړ، مهمندره، سرخرود ولسوالیو او جلال آباد ښار که د بارانونو او سیلابونو له امله ۳۰ زیانمنې کورنۍ له سروې او ارزونې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۸ نېټه د غیرخوراکي او اړینو توکو د مرستو لپاره مستحقې وپېژندل شوې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) له لورې، هرې کورنۍ ته د کور جوړولو بسته، ۳ تختې کمپلې، یوه فامیلي بسته، ۲ پایه سولري سیستم، پلاستیکي فرش، لاسي جارو او د PUMI موسسې له لوري هرې کورنۍ ته لس لیټره ۲ بوشکې، شل لیټره ۲ بوشکې، ۵ کلچې د لاس منځلو صابون، ۱۰ عدده کلورین ټابلیټ، د ښځو لپاره ۶ ټوټې شپږ متره ټوکر او یو بکس ووېشل شول. همدارنګه، د له یادې جملې څخه ۱۵ کورنیو ته چې کورونه یې زیات ویجاړ شوی وو، د IOM له لورې یوه یوه خیمه هم ووېشل شوه.

د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو له امله له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او همکاره سازمانونو څخه خوښي او قدرداني څرګنده کړه او د دې ډول مرستو د دوام غوښتنه یې وکړه.

## د بامیان ولایت د پوهنتون او ښاري ښوونځیو د استادانو لپاره د زلزلې له خطرونو څخه د خوندیتوب پروګرام ترسره شو




د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د هستوګنې لپاره د آغاخان محترمې مؤسسې (AKAH) په همکارۍ، د ښاري ښوونځیو او بامیان پوهنتون د استادانو، او همدارنګه د یاد ریاست د کارکوونکو لپاره د زلزلې له خطرونو څخه د خوندیتوب (Shake Out) تر نامه لاندې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۹ نېټه پروګرام ترسره کړ.

یاد پروګرام د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس په شتون کې، د بامیان ښاري ښوونځیو د ۴۰ تنو استادانو، د ریاست د کارکوونکو او د بامیان پوهنتون د ۱۷ تنو استادانو په ګډون ترسره شو.

د یادونې وړ ده چې د زلزلې له خطرونو څخه د خوندیتوب (Shake Out) دغه پروګرام هرکال د اکتوبر په میاشت کې د هستوګنې لپاره د آغاخان مؤسسې (AKAH) له لورې د افغانستان د ښوونځیو او پوهنتونونو په کچه د زلزلې د خطرونو په وړاندې د پوهاوي او چمتووالي د لوړولو په موخه ترسره کېږي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غور از جریان کار پروژه ساخت پلچک خارستان بازدید کرد



محترم الحاج مولوی عبدالسلام عمر، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غور، بتاریخ ۲۹ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق از روند کار پروژه ساهت پلچک خارستان بازدید نمود.

در جریان این بازدید، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث از نزدیک وضعیت کار پروژه را بررسی کرده و اظهار داشت که کار آن به مرحله پایانی رسیده است. وی به مسئول شرکت تطبیق کننده پروژه هدایت داد تا پیش از سردتر شدن هوا، کار پلچک را تکمیل و آن را به بهره‌برداری بسپارد.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست اجباری راستنېدونکو ۷۰ کورنیو ته خوراکی مرستې وویشلې




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت په قرغیو ولسوالۍ کې د کډوالو لپاره په سرخکانو پنډغالی کې له ګاونډیو هېوادونو څخه یاد ولایت ته په اجباری توګه راستنېدونکو د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۹ نېټه ۷۰ کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه او ۵ لیټره غوړي وویشل شول.

مرسته اخیستونکو د دې مرستو په ترلاسه کولو سره خوښي وښووده او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه یې مننه او قدرداني وکړه او ویې ویل چې په دې پنډغالی کې د مسؤلینو له لوری له کډوالو سره په هره برخه کې لازمی مرستې ترسره کېږی.

## پروژه ساخت یک دیوار محافظتی در ولایت نورستان آغاز شد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نورستان کار ساخت یک دیوار محافظتی به طول ۴۰ متر را در قریه پارسل، ولسوالی کنتو، به منظور حفاظت از ساختمان مدرسه شهید شیخ دوست‌محمد در برابر خطر سیلاب بتاریخ ۲۹ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق آغاز کرد.

در مراسم افتتاح این پروژه، مسئولین محلی حضور داشتند. این پروژه از سوی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تمویل می‌شود و با تکمیل آن، زیربناهای دینی و آموزشی از خطرات حوادث طبیعی در امان خواهند ماند.

مسئولان ریاست آمادگی مبارزه با حوادث بر اجرای باکیفیت پروژه تأکید کردند و افزودند که با آغاز این پروژه، زمینه اشتغال برای جوانان محل نیز فراهم شده است.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۱,۲۷۵ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د رازی د ټولنیزې او پراختیایی موسسې (RSDO) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک پر بنسټ، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۹ نېټه له وچکالۍ څخه زیانمنو او له ایران او پاکستان څخه راستنېدونکو ۱,۲۷۵ کورنیو ته د دې ولایت په مقر او آب‌کمری ولسوالیو او مرکز قلعه‌نو کې نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسوولینو په شتون کې له سروې وروسته، د ژمنیو مرستو په توګه هرې کورنۍ‌ته د ۳۰۰ ډالرو معادل افغانۍ؛ په مقر ولسوالۍ کې ۳۷۵ کورنیو هرې یوې ته د خوراکی توکو برابرولو لپاره په لومړی پړاو کې د ۸۰ ډالرو معادل افغانۍ, د ولایت په مرکز قلعه‌نو کې په لومړی پړاو کې د خوراکی توکو برابرولو لپاره ۲۰۰ کورنیو هرې یوې ته د ۸۰ ډالرو معادل افغانۍ او همدارنګه په قلعه نو کې د ژمنیو مرستو په توګه ۴۰۰ کورنیو هرې یوې ته د ۲۰۰ ډالرو معادل افغانۍ ووېشل شوې.

د یادونې وړ ده، چې ټولټال ۱،۲۷۵ اړمنو کورنیو ته دوولس میلیونه او درې سوه شپږ شپېته زره او څلور سوه پنځه اویا (۱۲,۳۶۶,۴۷۵) افغانۍ نغدی مرستې ووېشل شوې.

## د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په نشه یی توکو ۳۰ روږدو کسانو ته خوراکی مرستې ووېشلې

د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ولایت مقام د حکم پر بنسټ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۹ نېټه له خپلو شته امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره په نشه یی توکو ۳۰ روږدو کسانو ته خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هر یو روږد کس ته ۵۰ کیلو غنم او ۲۵ کیلو وریجې ووېشل شوې.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۲,۸۱۵ خانواده نیازمند کمک‌های نقدی و غذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب با همکاری مالی مؤسسه بین‌المللی امدادرسانی مجارستان (HIA)، بتاریخ ۲۹ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۲,۸۱۵ خانواده مستحق در ولسوالی اندخوی آن ولایت کمک‌های نقدی و مواد غذایی توزیع نمود.

در این روند، برای هر خانواده در حضور مسئولین ۲,۹۰۰ افغانی پول نقد توزیع شد.

همچنین، از مجموع خانواده‌های مستحق، برای ۱,۱۹۳ خانواده هر یک ۳۰ عدد پلمپی و برای ۱,۵۶۶ خانواده هر یک ۳ کیلوگرام سوپر سیریال توزیع گردید.



## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ماین‌پاکۍ له کارونو څخه لیدنه وکړه




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم قاري خیر محمد غازي په مشرۍ یو پلاوي په یاد ولایت کې د هیلو ټرسټ د ماین‌پاکۍ مؤسسې له کارونو څخه د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۹ نېټه څارنه وکړه.

د هیلوټرسټ مؤسسې د لغمان ولایت مرکز مهترلام په ۲ ځګړې ځپلو سیمو کې د ماینونو د پاکولو چارې او په ۲ نورو سیمو کې د خلکو لپاره د ماینونو او ناچاوده توکو د خطرونو په اړه د پوهاوي ورکولو پروګرامونه پیل کړي دي. دا فعالیتونه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په غوښتنې او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د ماین‌پاکۍ چارو د انسجام او همغږۍ ریاست په همکارۍ ترسره کېږي، چې تر دا مهال، د لغمان ولایت مرکز مهترلام اړوند د شمتې کلی سرته په پنج پای سیمه کې تقریبا ۱۰،۰۰۰ متره مربع سیمه له ماینونو او ناچاوده توکو څخه پاکه شوې او د نورو سیمو د پاکولو چارې دوام لري.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د هیلو ټرسټ مؤسسې بشردوستانه هڅې وستایلې او د دوامداره همکارۍ ډاډ ورکوی، تر څو د لغمان ولایت خلکو ته د ماینونو له خطرونو څخه خوندي چاپېریال برابر شي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۱۴,۹۳۰ خانواده مساعدت نقدی و غذایی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب با همکاری مالی مؤسسه کمک‌های بین‌المللی هنگری(HIA) که تمویل کننده پروژه آن برنامه جهانی غذا(WFP) می‌باشد، بتاریخ ۲۹ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۱۴,۹۳۰ خانواده مستحق در ولسوالی‌های مختلف آن ولایت مساعدت نقدی و غذایی توزیع نمود.

در این روند، در ولسوالی‌های اندخوی، پشتونکوت، خواجه موسی، قیصار، چهل‌گزی و خیبر، به هر خانواده مبلغ ۲,۹۰۰ افغانی پول نقد توزیع گردید. همچنان در ولسوالی‌های گرزیوان، بندر و لولاش، برای خانواده‌های مستحق بسته‌های مواد غذایی شامل ۵۰ کیلوگرام آرد، ۵ کیلوگرام روغن، ۶.۲۵ کیلوگرام دال نخود و ۰.۵ کیلوگرام نمک طعام، در حضور نمایندگان ریاست آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست اقتصاد و ولسوالی‌های مربوطه توزیع شد.

## د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱,۷۲۴ کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ماهو موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت په سوزمه قلعه ولسوالۍ کې ۱,۷۲۴ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲۹ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲,۹۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ۴,۹۹۹,۶۰۰ (څلور میلیون او نه سوه نه نوی زره او شپږ سوه) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## تدویر برنامه آگاهی در مورد زلزله همزمان با ایجاد ۲۷ کمیته نجات مردمی و تجهیز آنان در ولایت بغلان



بر اساس تفاهم‌نامه همکاری میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه آغاخان برای اسکان (AKAH)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان، با حمایت دفتر یادشده  در پنج ولسوالی؛ شامل دهنه‌غوری، دوشی، بنو، ده‌صلاح و خنجان برنامه آگاهی‌دهی عامه در مورد زلزله را برای باشندگان محل بتاریخ ۲۹ ربیع الاخر  سال ۱۴۴۷ هـ ق برگزار کرد.

در جریان این برنامه، مؤسسه آغاخان برای اسکان (AKAH) به هدف تقویت ظرفیت مردم در برابر حوادث طبیعی، ۲۷ تیم نجات مردمی را در ولسوالی‌های یادشده ایجاد نمود و به هر تیم ۲۰ قلم وسایل نجات از زلزله توزیع کرد، تا آنان بتوانند در هنگام وقوع زلزله از این وسایل برای کمک‌رسانی و انتقال آسیب دیدگان به مراکز صحی استفاده نمایند.

هدف از این برنامه، ارتقای سطح آگاهی مردم در مورد چگونگی محافظت از خود در برابر زلزله و کاهش تلفات انسانی در زمان وقوع حوادث طبیعی می‌باشد.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د RRDPO موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۱ نېټه د دې ولایت په مرکز مهترلام او علینګار ولسوالی کې ۴۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسوولینو په شتون کې، هرې کورنۍ  ته ۱۰۰ کیلو ګرامه اوړه، ۹.۱ کیلو ګرامه غوړي، ۱۲.۵ کیلو ګرامه دال، ۱ کیلو ګرام مالګه، سوپر سریال او مغزی حلوا ووېشل شوه.




## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان برای ۲۶ خانواده متأثر از حوادث کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان با استفاده از امکاناتی که از کمیسیون توزیع کمک‌ها به زلزله‌زدگان دریافت کرده بود، پس از انجام سروی، بتاریخ ۱ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۲۶ خانواده آسیب‌دیده در ولسوالی‌های مختلف آن ولایت کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.

در این روند در حضور مسئولان، برای ۲۵ خانواده هر یک ۵۰ کیلوگرام آرد، یک بسته مواد غذایی، ۶ کیلوگرام خرما، ۴ کارتن بسکویت و یک تخته ترپال توزیع شد. همچنان برای یک خانواده یک باب خیمه نیز توزیع شد.



## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وچکالۍ له امله ۱,۳۵۷ زیانمنو کورنیو ته د دویم پړاو نغدې مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ژغورنې نړیوالې کمېټې دفتر (IRC) ترمنځ د هوکړه لیک پر بنسټ، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۲ نېټه له وچکالۍ ځخه زیانمنو ۱,۳۵۷ کورنیو ته د دې ولایت په آب‌کمری ولسوالۍ کې د دویم پړاو نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسوولینو په شتون کې له سروې وروسته هرې کورنۍ‌ته ۸,۴۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.

په مجموع کې یاد شمېر کورنیو ته یوولس میلیونه او درې سوه اته نوی زره او اته سوه (۱۱,۳۹۸,۸۰۰) افغانۍ نغدې مرستې ووېشل شوې.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۰ بېوزله، بې‌سرپرسته او زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د درمان مؤسسې ترمنځ د همکارۍ د هوکړه لیک پر بنسټ، د کابل ولایت د پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۲ نېټه د کابل ښار په کچه له ۲۰۰ زیانمنو، بې‌بضاعته او بې‌سرپرسته کورنیو سره د خوراکی توکو مرستې ترسره کړې.

په دې لړۍ کې د اړونده مسؤلینو په شتون کې او له سروې وروسته هرې کورنۍ ته یوه بوری ۵۰ کیلویی اوړه، یوه بوری ۲۴ کیلویی وریجې، ۵ لیتره غوړی، ۲ کیلو بوره، نیم کیلو شین چای او ۲.۵ کیلو لوبیا ووېشل شوه.

د مرستې ترلاسه کوونکو کورنیو د دغو مرستو له امله خوښی څرګنده کړه او د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ځخه یې مننه وکړه، چې په سختو حالاتو کې له اړمنو او زیانمنو کورنیو سره مرسته کوی.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نورستان کار ساخت یک پلچک و بازسازی جاده را افتتاح کرد



به اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نورستان در قریه اشتوی مرکز آن ولایت پارون، کار ساخت یک پلچک به ارزش چهارصد و چهل هزار (۴۴۰,۰۰۰) افغانی و بازسازی جاده‌ای از مرکز ولایت تا شرق نورستان به ارزش دوصد هزار (۲۰۰,۰۰۰) افغانی را بتاریخ ۲ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق افتتاح کرد.

در مراسم افتتاح این پروژه‌ها، محترم مولوی الحاج فیصل مختار، معاون ولایت نورستان، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نورستان، مولوی سیف‌الله خالد و شماری از دیگر مسئولین محلی حضور داشتند. این جاده در اثر سیلاب‌های گذشته تخریب شده بود که مشکلاتی را در رفت‌وآمد مردم ایجاد کرده بود، اما با تکمیل این پروژه‌ها این مشکلات برطرف خواهند شد.

باشندگان محل از تطبیق این پروژه‌ها ابراز خرسندی کردند و گفتند که این پروژه‌ها در کنار تسهیل رفت‌وآمد، در بهبود فعالیت‌های اقتصادی مردم نیز نقش مثبت خواهد داشت.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې وویشلې




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت بېلا بېلو ولسوالیو اړوند ۷۵ زیانمنو کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې وویشلې.

دا مرستې چې زلزله ځپلو کورنیو ته د مرستو رسولو کمېسیون له لوري د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګی ریاست ته سپارل شوې وې، د لغمان ولایت د مقام په حکم او د کمیټې په شتون کې وویشل شوې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، یو د خوراکي توکو کیټ، ۶ کیلو خرما، ۴ کارټن بسکیټ او یو تخته ترپال وویشل شول.

مرسته اخیستونکو د یادو مرستو په ترلاسه کولو سره خوښي وښوده او د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه یې مننه وکړه چې له زیانمنو کورنیو سره په سختو حالاتو کې لازمې مرستې کوي.

## عامه پیغامونه :

9. موټر په احتیاط چلوئ چی هدف ته ژر ورسېږې چټک تګ مه کوئ چې د کومې پېښې د رامنځته کیدو له امله دربانديې ناوخته نشی

10. ماینونو او ناچاوده توکو ته لاس مه وروړئ که چیرې مو کوم ماین یا ناچاوده توکی ولیدل د ماین پاکی مسؤلینو ته ژر تر ژره خبر ورکړئ

11. طبیعی پېښو ته چمتووالي نیول د ژوند ژغورنې یو اړین اصل دی

12. د خپل توان او طاقت سره سم اوبه مدیریت او مهار کړئ ترڅو د سیلاب او وچکالۍ د خطرونو څخه ځانونه او مالونه وژغورې